

## دمعلوماتي تکنالوژي د څانګې لنډه تاریخچه

د معلوماتي تکنالوژي څانګه د کمپیوټرساینس پوهنځي د بُست پوهنتون په چوکاټ کې د (1393) هـ ش کال کې د لوړو زده کړو وزات لخوه منظور او تاسیس شوه او په 27/1/1395 هـ ش کال په بهاري کانګور کې په فعالیت شـروع وکړه چې تر څو د کمپیوټر ساینس په برخه کې کادرونه وروزي ده دې څانګې د تحصـیلي دوره (8) سمـــستره ده چې دوه کاله عمومي او پاته دوه کاله یې په اختصاصي ډول ســره معلوماتي تکنالوژي د ډیپارټمنت کې تکمیل کیـږي پدې څـــانګه کې تدریس په عملي او نظري ډول او د نوي تکنالوژي په مرســـته مخته وړل کیږي دا پوهنځۍ د تأسیس له وخته تر اوســه د پوره شـــفافیت او لوړ کیفیت لـــرونکې ده او په ښـــه ډول یــــې ټول علمي چاري مختـــه ځي، څینو استادانو یــې د پوهـــنځۍ او پوهـــنتون څـــخه د ښــه کړنو او فعالیتونو له وجهي ستاینلـــیکونه تر لاســـه کړي او همدارنګه په 1398هـ ش کال کې د لومړي ځل لپاره 13 تنه د لیسانس په کچه په معلوماتي تکنالوژۍ ډیپارټمینټ کې فارغان ټولني ته د خدمت لپاره وړاندي کړل او همداسي دا لړۍ جریان لري .

## زده کړه ایزې موخې

د کمپیوټر ساینس پوهنځي فارغان به لاندي وړتیا وي ولري:

- ☑ پـه مـسلکي او تـخصـصي ډول د معـلوماتـي ټـکنـالوژۍ استعمالول.
- ☑ د معلوماتي ټـکنـالوژۍ پـه مـټ پـه دولـتي او غیر دولـتي مؤسسو، ادارو او ارګانونو کي د کار کولو مهارت درلودل.
- ☑ د عـصري پـوهـي او تخـنیـکي مسلکیـتوب مـهـارت درلـودل.
- ☑ په خصوصي او دولتي بنسټونو او شرکـتونو کـي د عصـري او مـوډرنـي ټـکنـالوژۍ د استعـمـال او مـــوثـریـت پـوهـه او مـهارت درلـودل.
- ☑ د کمپیوټري شبکې یا نیـټـورک د ډیزایـن، ایجاد او جـوړښـتـونـو پـه برخه کي مکمل مهارت درلودل.
- ☑ د ډیـټـابیـس یـا د مـعـلـومـاتـو د ذیـرمـي د ایـجـاد او مـسلـکیـتـوب په برخه کي پوره پوهه درلودل.
- ☑ د سافـتـویـر انـجـنـیرینـګ یـا پـروګـرام د جـوړولـو پـه بـرخـه کـي مسلکي پوهه درلودل.
- ☑ زده کړه ایزې موخې ته د رسېدو وروستـه د نورو لـوړو زده کـړو لـپاره مکمل علمیت، پوهه او مسلکي مهارت درلودل.
- ☑ د پوهنځي په مربوطه څانګو کي په تدریس کـي د عـملي پروګرامـونو څخه استفاده کول.

## د فارغ التحصیل محصلانو څخه روښانه تعریف:

د ( معلوماتي تکنالوژي ) برنامې د فارغ التحصیل څخه روښانه تعریف فورم د ( بُست ) پوهنتون د ( کمپیوټرساینس) پوهنځي د (معلوماتي تکنالوژي ) برنامه د (هیواد د بچیانو) د متخصصو او مسلکي کادرونو د تربیي په موخه ایجاد سوي. په دې اساس د ( معلوماتي تکنالوژي ) برنامه هغه شخص د خپل لیسانس دوري فارغ التحصیل بولي چي ( لږ ترلږ د 136) کریډیټونه یې په یوه څلور کلنه تحصیلي دوره (8 سمسټرونو) کي په ورځنی/ روزانه او پنځه کلنه تحصیلي دوره (10 سمسترونو) کي په شپنۍ / شبانه برخه کي پوره کړي او د پوهي، وړتیاوو او چلند په برخو کي د لاندي شرایطو درلودونکی وي.

1. د پوهي په برخه کي: د ( معلوماتي تکنالوژي ) برنامې فارغ التحصیل وکولاي سي چي د لیسانس په کچه پر ( د اوسنی عصر د تکنالوژي ، شبکی یا نیټورک سیستمونو او داسي نورو ) موضوعاتو باندي بر لاسی، د تکنالوژي په ټولو مهارتونو لکه (معلوماتي تکنالوژي چي شبکی او نورو تکنالوژیکی سیستمونوباندی ) تسلط ولري تر څو وکولاي سي د ( د معلوماتي تکنالوژي ) د متخصص کادر په توګه په ټولنه کي خپل شتون په ډاګه کړي.

2. د وړتیاوو په برخه کي: د(معلوماتي تکنالوژي ) برنامې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د اړتیا ترکچې له ( کمپیوټري شبکو او نورو تکنالوژیکي او معلوماتي سیستمونو) سره آشنایي لري او پدې برخه کي د خپلې ستونزي د هواری توان لري.

3. د چلند په برخه کي: د ( معلوماتي تکنالوژي ) برنامې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د خپلو تخصصي ( رشتو ) او مسلکي مضمونو له منځپانګي نه یې د هیواد نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه؛ لوړ اسلامي، انساني او اخلاقي ارزښتونه یې زده کړي. دې ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند نه خلاص وي.




# کمپیوټرساینس پوهنځی
# FACULTY OF COMPUTER SCIENCE

## معلوماتي ټيکنالوژي
## INFORMATION TECHNOLOGY

# CONTACT US

**Phone**
+93 702 300 728


**Email**
bcs@bost.edu.af

**Web**
www.bost.edu.af

**Address**

Bost University Complex Lashkargah
Helmand Afghanistan

COMPUTER SCIENCE




## د معلوماتی تکنالوژي ليرليد او ماموريت:

### ليرليد(Vision)

په ملي او نړيواله کچه د معلوماتي تکنالوژي د پيژندني د اړتياوو پر بنسټ د سپيڅلي ښووني زده کړي او څيړني وړاندي کول.

### ماموريت(Mission)

د افغانستان په کچه په علمي ډګر کي د کمپيوټري شبکی يا نيټورک او معلوماتي تکنالوژی په برخه کي يو غښتلي اکاډميکه اداره رامنځ ته کول.